ISSUE 81 MAY 2024

خانه نو نوی کور

# New Home

خانه نو، سرویس خبری برای اهل افغانستان در امریکا است

نوی کور، په امریکا که د افغانانو لپاره یو خبری خدمت دی

**A news service for Afghans in America**

NEW HOME is brought to you by Sahan Journal, Afghan Cultural Society,and Center for Victims of Torture.
It's reported and written by Hussain Ali Haidari.



Photo Credit: Mehrab Ibrahimi/Associated Press

# په افغانستان کې ورستي سیلابونه؛ یونیسف ۲۴۰ کسانو مړینه تایید کړل

- ورستیو سیلابونو په افغانستان کې ۵۱ ماشومان هم مړه کړي دي
- د یادو سیلابونو له امله روغتیایي خدمتونو او ښوونیزو خدمتونو ته لاس رسی سخت شوی دی
- د فاریاب ولایت اوسیدونکي د مرستو نه ترلاسه کولو له امله شکایتونه کوي

Illustrator Credit: CVT

## په افغانستان کې ورستي سیلابونه؛ یونیسف ۲۴۰ کسانو مړینه تایید کړل

د افغانستان په یو شمیر ولایتونو کې موسمي بارانونه او سیلابونه د پراخ مالي او ځاني زیانونو لامل شوي دي. نه یوازې مالي زیانونه دي چې خلکو ته په سیلابونو کې اوښتي بلکې په ځاني زیانونو کې هم د یادو سیلابونو له امله عامو خلکو ته ګڼه مرګژوبله اوښتې ده چې ډیر زیان یې په بغلان،غور او فاریاب کې اړولی دی. په هېواد کې د ورستیو سیلابونو له امله یو شمیر روغتیایي او ښوونیز مرکزونه هم ویجاړ شوي دي. د ماشومانو لپاره د ملګرو ملتونو د ملاتړ اداري یونیسف د سې شنبه په ورځ د مئ میاشتي پر ۲۱ ویلي چې د ۵۱ ماشومانو په ګډون یادو سیلابونو د ۲۴۰کسانو ژوند په بیلابیلو ولایتونو کې اخیستی دی او په سلګونه نور ټپیان دي.

یونسیف په یوه راپور کې وویل چې سیلابونو ډیر زیانونه د بغلان په شمالي بغلان کې اړولي دي. د راپورونو له مخې د دغه ولایت په اتو ولسوالیو کې شاوخوا دري زره کورونه ویجاړ شوي دي. دي اداري وویل چې په دې ولایت کې د زرګونو کورنیو سره د خوراکي توکو روغتیایي برخه اود نغدو پیسو مرسته کړي ده. یونیسف ویلي چېشاخوا ۳ زره سیلاب ځپلو ته هره کس ته ۳۱۲ ډالر ورکړي دي ترڅو خپل لومړنۍ اړتیاوي پوره کړي. په غور ولایت کې یو شمیر مهمو سرچینو ویلي چې په یاد ولایت کې هم وروستیو سیلابونو خلکو ته درانه مالي او ځاني زیانونه اړولي دي.

**خپل پوښتنې او نظر له موږ شریکې کړئ**

**651-504-8170**

**ادامه ...**

د شمیرو له مخي چې په یاد ولایت کې ۱۰ زره کورنۍ په قولي ډول تخریب شوي دي او ترڅنګ یې ۳۰۰۰ دوکانونه سلګونه پلونه پلچکونه هم ویجاړ شوي دي او ۸۰ سلنه کرنیزې ځمکي ویجاړي شوي دي. د یاد ولایت د ولسوالیو منځ سړکونه ویجاړ شوي او د خلکو په خبره یې چې د دوامداره سیلابونو له امله دوی له خدمتونو څخه بې برخي شوي دي.

که څه هم یو شمیر ادارو د سیلابونو د زیانونو راپور ورکړي خو د طالبانو د مدیریت د نه شتوالي له امله د فاریاب ولایت اوسیدونکي هم د سیلابونو څخه شکایت کوي او وايي چې دروغتیایي خدمتونو د کمښت سره مخامخ شوي او په خبره یې چې د حکومتي ادارو او نړیوالو مرسته کوونکو سازمانونو دوی ته هیڅ پاملرنه نه ده شوي او د یاد ولایت د مالي او ځانیې زیانونو په اړه یې دقیق راپورونه نه دي خپاره کړي. د سیمې داوسیدونکو په وینا چې د تیرې یوې میاشتي دورښتونو له امله چې زیات سیلابونونه ورڅخه راووتل د فاریاب ولایت د کوهستان، ګرزیوان، بلچراغ، پشتونکوت، خواجه سبزپوش، شیرین تګاب او دولتآباد لسوالیو کې خلکو ته درانه ځاني او مالي زیانونه واړول. هغوي وايي دوامداره سیلابونو په یادو ولسوالیو کې د خلکو ځمکي،باغونه،کورونه ،پلونه او لویې لارې ویجاړې کړي. هغوي وايي د یوې خوا څخه دوی اقتصادي ستونزې لري او د بل پلوه سیلابونو دومره زیانمن کړي دي چې د دولتي او نړیوالو سازمانونو د مرستې پرته نه شي کولایي چې خپل کورونه بیا ځلي ترمیم کړي. په ورته وخت کې یو شمیر ګاونډیو هېوادونو چې ایران او ترکیه هم پکښې شامله ده د افغانستان سیلاب ځپلو ته یې د مرستو کڅوړې لیږلي دي. که څه هم دامهال د سیلاب ځپلو سره مرستې کیږي خو هغه زیانونه چې د سیلابونو له امله رامنځته شوي دي ډیر لوړ دی.